دجهان شماراست دلی ساخته‌ام تابرمردم گواه باشید وپیامبر صلی الله علیه وسلم برشماگواه باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل ۹۷۳ سال هژدهم شمارهٔ (۵۹) سه شنبه ۲٤ اسد ۱۳۷٤ هـ ش ۱۹ ربیع الاول ۱٤۱٦ هـ . ق ۱۵ اگست ۱۹۹۵ م

قیمت (۲۰۰) افغانی (۲ روپیه)

دطالبانو په لیکو کي اختلاف له کنتروله پروتو دي

یوه پاکستاني ژورنالیست چي افغانستان ته دهغه هیواد دبهرنیو چارو له وزیر سره ملګري و ، ویلي چي دطالبانو په لیکو کي دقیادت ،صلاحیت ،سلیقي ، ګټو اوبیلا بیلو میلانونو په بنیاد رامنځ ته شوي اختلافونه ورځ په ورځ پراخیږي ، اودحل کیدو چانس یې له منځه تلی . نوموړي ژورنالیست وایي : چي طالبان ظاهراً په دریو ګروپونو ویشل شوي ښکاري ،خو واقعیت دادي چي په شکلي لحاظ موضوع همداسي ده . مګر اصلاً ددي ګروپونو شمیر تر دي زیات دي ، ځکه له مشهورو دریو ګروپونو څخه یو ګروپ هم په خپل ګروپ کي دننه هیڅ بلاتنازع لیدرشپ نلري اوهرګروپ په خپل ځان کي منتشر دي.

ژورنالست زیاتوي چي دطالبانو ځیني بهرني دوستان په تشویش کي دي چي مبادا دطالبانو ځواک محکي تردي چي په افغانستان کي کوم مهم نقش ولوبوي ، دخپلو داخلي کمزورتیا وو په وجه تالاترغي شي .

ژورنالیست وایي چي له همدي امله په دي وروستیو کي دطالبانو بهرني دوستان په ځینو پرځوکي فعال شوي اوددي احتمال شته چي هغوي دطالبانو تر بیخي کمزوري کیدو دمخه په خپلو "الترنانیفي" پروسو کارګرندي کړي .

دپیښور دشرعي محکمي دفیصلي په اساس :

پنځه تنه افغانان له زندان نه خوشي شول

پیښور - دزمري ۲۲ :

څه موده وړاندي پنځه تنه افغانان دپاکستان دامنیتي اداري لخوا په دي تورنیول شوي وو، چي ګویا پیښور ته څیرمه د ځمکتیو په سیمه کي یې دحاجي محمدابراهیم له کورڅخه (٦٠٠٠٠٠) نقدي کلداري اوښځینه ګاڼه غلاکړي ، تیره ورځ دپیښور وفاقي شرعي محکمي پنځه واړه افغانان خوشي کړل .

دخبري منابعو درپوټ په اساس تردي وړاندي دپیښور یوي محکمي هریوتن ته (۵۰)، (۵۰۱) کالو حبس او (۲۵۰۰۰) ، (۲۵۰۰۰) کلدارو جریمي سزا تصویب کړي وه ، چي دیولروجوهاتو په اساس دپیښورشرعي محکمي ټولي پخواني فیصلي مستردي اوافغانان ئي په عزت سره خوشي کړل .

په هیواد کي دیوه متوازي حکومت اعلان تربحث لاندي دی

دشهادت سیاسي خبریال دیوه باوري خبرخاي په حواله ربوټ راکوي چي دهیواد دننه دځینو مهمو پوځي اوسیاسي حلقو ترمنځ په افغانستان کي د "رباني" داداري په وړاندي دیوه متوازي حکومت پراعلان تودبحث روان .ی.

ربوټ وایي چي نوموړي حلقي دبلابیلو تجربو ترلاسوپیلو وروسته "دي نتیجي ته رسیدلي چي پکار ده د "رباني" "اداري د دیپلوماتیکي اعتبار اوبین المللي څه نا څه موجود پرستیژ دختمولو اویا دیرکمزوري کولو لپاره یو بل حکومت اعلان شي او د" رباني " پر اداره بي دیرانه فشار دتشدید لپاره دیوه مهم فکتوریه توګه استعمال کړي .

ربوټ وایي چي دمتوازي حکومت داعلان موضوع په تیرو دووګلونو کي څو خله ترغور لاندي ونیوله شوه خو هر واربي دحزب اسلامي دقیادت له خوا دځینو احتمالي ناسموعواقبو دخطر په پام (٤)مخ

به نقل یک سفارتکار اداره ائتلافی درمسکو:

مقامات روسیه درخواست ربانی رئیس اداره کابل را ردکردند

کابل - ۲۲ اسد

رباني رئیس اداره کابل خواهان کمك نظامي ازروسیه شده است . قرار گزارش هاي رسیده وبیانات یك کاردارسفارت افغانستان درمسکو رباني رئیس اداره کابل جهت ایجاد صلح وامنیت درافغانستان وسرکوب نمودن مخالفین خود خواهان کمك نظامي روسیه شدکه درابتدا این خواست وي ازطرف روسهارد گردید .

سفارت کارمذکور که ازافشاي نام خود ابا ورزیده میگویدکه این مطلب درتلویزیون روسیه نیز نشرشد . وي اظهارداشت که به تاریخ ده اگست تلویزیون مسکوگفت اداره کابل ازمسکوکومك نظامي خواسته است تاصلح وامنیت را درافغانستان برقرار ومخالفین خودرا سرکوب نماید.

سفارتکارمیگوید حکومت روسیه به این خواست اداره کابل جواب رد داده وگفته است شوروي یك بار قبلاًکمك نظامي با افغانستان نموده بودکه تاکنون بانتایج خراب آن روبرو میباشد وبارديگر این قسم غلطي رانخواهدکرد .

درمیدان هوایی بگرام ۳۰ تن از انجنیران هند مصروف کار اند

اظهارات پیلوتهای فراری ازبگرام منتشرشده است

پشاور ۲۲ - اسد

دوپیلوت افغان که چندی قبل از ترکیب قوای اداره کابل فرار نموده به جنبش ملی پیوسته اند می گویند که انجنیران ومستری های هندی در میدان هوایی بگرام مصروف ترمیم طیارات جت جنگی انواع (میگ ۲۱ و سو ۲۲) قوای هوایی اداره کابل میباشند.

به گزارش روزنامه نیوز مونس وحمید دوپیلوتی که حدود یازده ماه قبل از میدان هوایی بگرام فرار نموده وباقوای جنبش ملي پیوسته اند در شبرغان به خبرنگاران پاکستانی گفتند که بیش از (۳۰) انجنیر هندی درمیدان هوایی بگرام موجود بوده آنها لباس افغانی میپوشند تا هویت شان افشا نگردد وعلاوه بر آن میکوشند از انظار افغانان مخفی باشند .

این دو پیلوت که باشنده کابل هستند گفتند که تعلیمات نظامی رادر افغانستان وروسیه فراگرفته وطیارات نوع میگ راپرواز میدهند.

حفیظ الله قوماندان قطعه هوایی که مونس وحمید نیز درترکیب آن هستند ص(٤)

سلسله تجلیل سالروز میلادالنبي (ص) دربسیاري ازکشورهاي اسلامي جریان دارد

سلسله برگزاري مراسم باشکوه بمناسبت سالروز میلاد خجسته حضرت محمد (ص) در افغانستان وکشورهاي مختلف جهان ادامه دارد.

قرار گزارش هاي رسیده مراسم خاصي درشهرکابل و چندین ولایات کشور به همین مناسبت برگزارشده وعلما وروحانیون طي سخناني گوشه هاي اززندگي پربار حضرت محمد (ص) راتشریح نموده واز ص(٤)

دکراچي په ښارکي دطالبانو له غورځنګ څخه دملاتړ په یوې غونډه کي :

اسلامي هیوادونه دي له افغانستان څخه خپل دیپلوماتان بیرته وغواړي

کراچي - داسد ۲۲ مه :

دکراچي ښارده سهراب ګوټ ، داکاخیلو په جامع جومات کي دطالبانوغورځنګ څخه دملاتړدترګندوني په خاطر دګن شمیرافغاني دیني طالبانویه ګډون یوه غونډه جوړه شوه .

دپاکستان دڅپوال خبري آژانس درپوټ په اساس دي غونډي ته پوښتیر افغاني اوپاکستاني علماوو وینناوي وکړي اودهغي په ترڅ کي یې یدي ټکي ټینګاروکړ چي درباني اداره په هیڅ توګه دافغانستان دولس ممایندګي نشي کولاي .

ربوټ وایي مولاناحبیب الرحمن جوزجاني غونډي ته دویناپه ترڅ کي وویل افغان مسلمان ولس دروسي یرغل دپه شاګولو لپاره جهاد وکړ ، اوبي شمیره قرباني یې یدي لارکي وړاندي کړي خو ن پیاهم رباني او دهغه الهیوالان ددغه قربانیو څخه په سترګي پټولو سره له (٤)مخ

طالبانوروسي دیپلومات ته خپل شرطونه وړاندي کړل

دزمري ۲۳

دطالبانو دولي مشر مولوي محمد عمر ویلي دي چي په دي شرط دهغي روسي الوتکي عمله خوشي کوي چي روسیه دهغو افغانانو لست ورکړي چي دشوروي دیرغل په وخت کي ورك شوي دي.

دڅپوال خبري آژانسونو درپوټ په اساس مولوي محمد عمر ویلي یوشمیر افغانان دسوریتو " مجاهدینو" او علماوو په ګډون دکمونستي رژیم په وخت کي یندیان شوي ؤ او شوروي ته استول شوي وو اوکیداي شي دهغوي څخه زیات شمیر (٤)مخ

بخاطر بهره برداری تبلیغاتی:

اداره کابل اداره احتساب رابوجود آورده است

اداره کابل بخاطر بررسي اموال ودارایی هاي افرادي که درمدت زمان کوتاه ثروت هنگفت اندوخته اند کمیسیوني را توظیف نموده تا راه هاي حصول این اموال ودارایی هاي بی حدوحصر را بررسي کند .

به گزارش رادیوي ایران اعضاي این کمیسیون از چند وزارت منجمله وزارت عدلیه ووقاع نمایندگي مي کنند گزارش کارخود رابه شوراي عالي اداره کابل که عالي ترین مرجع تصمیم گیري این اداره خوانده میشود . ارایه میدهد.

منبع افزود ریاست این کمیسیون را فضل الرحمن وثیق بدوش داشته وعنقریب به کارآغاز مینماید.

خبرنگارشهادت میبیند تشکیل اداره احتساب دراداره ئیکه تمام امور آن تحت اختیار افراد انحصار طلب واستفاده جو باشد کدام معني عملي وحقیقي نمي تواند داشته باشد.

ومقصد ازآن صرف بهره برداري از جنبه تبلیغاتي مبتني است .

دافغان مهاجرینو کمشنر رستم شاه مهمند :

دمهاجرینو دستنیدو لپاره په افغانستان کي دیوه قوي حکومت موجودیت ضروري دي

پیښور - دزمري ۲۲ :

په پیښورکي دافغان مهاجرینو کمشنررستم شاه مهمند تیره ورځ یوي غونډي ته دوینا په ترڅ کي وویل : دافغان مهاجرینوبیرته ستنیدوله پاره ضروري دي چي په افغانستان کي یوقوي مرکزي حکومت جوړشي ده وویل په تري کي افغانستان یواځني هیواد دي چي د۱۸ کلوراهیسي یکي جنګ جریان لري، او په ترڅ کي پنځه نیم میلیونه اوسیدونکي یاندنیو هیوادونه اوده میلیونه ئي په داخل کي په هجرت مجبورشوي اوله یونیم میلیون څخه زیات کسان ئي قرباني شوي . ده پرافغاني مشرانو غږوکړ، چي په خپلوکي سره کیني اوخپل مشکلات دخبروله لاري حل کړي

به اساس گزارش اداره مبارزه با مواد مخدره ایران :

تولید مواد مخدرسالانه درپاکستان (۵۰۰) تن ودر افغانستان (۳٦۰۰) تن میباشد

پشاور ۲۲ اسد.

تولید مواد مخدر در پاکستان سالانه (۵۰۰) تن برآورد شده درحالیکه تولید این مواد سالانه در افغانستان به (۳٦۰۰) تن تخمین زده میشود. مطلب بالا جزء گزارشي است که به نقل از اداره مبارزه بامواد مخدر ایران درشماره ۱۲ سرطان ۱۳۷٤ روزنامه اطلاعات چاپ تهران به نشررسیده است . درین گزارش آمده است کشت خشخاش درافغانستان درولایات هلمند و ننگرهار وکشت شاهدانه (بنگ) در ولایات بدخشان وبلخ صورت میگرد . تنها در ولایت هلمند سالانه دو هزار تن خشخاش تولید میگردد که این مقدار حدود (۵۰) هزار هکتار اراضي را به کشت خشخاش اختصاص داده است .

ازطرف دیگر تعداد لابراتوار هاي موجود در دوکشور افغانستان وپاکستان بالغ بر (۳۵۰) دستگاه است ،که درولایات هلمند ،نیمروز ودرپاکستان درایالت سرحد شمال وبلوچستان مستقر اند.

درگزارش آمده است ، محصول تریاك پاکستان به منطقه آزاد "خیبر" منتقل وبعداز تبدیل به هیروئین سفید ،ازطریق بندر کراچي وبازار هوایي به اروپا ترانزیت میشود ، لابراتوارهاي افغانستان وپاکستان سالانه ۱۳ تا ۱۵ تن مرفین " تولید میکنند که حد اکثر خلوص آنها ٦۵ در صد است چرا که این لابراتوار ها به شیوه ابتدای وسنتي کارمیکند وفاقد تجهیزات پیشرفته امروزي هستند.

سران قاچاقبران عمدتاً در دونقطه ص(٤)

مسکوکابل ته دوسلوله لیږلوانکارکوي

مسکو - دزمري ۲۳

دروسیي یولوړ رتبه دیپلومات پرهغي هوایي کمپني دحرص تورلګاوه چي الوتکه یې دولس ورځي دمخه کابل ته دوسلو د لیږدولو په ګناه دکندهار په هوایي ډګرکي کوزه کړي شوي ده .

دبي بي سي د ربوټ له مخي دانترفاکس آژانس دروسیي دبهرنیو چارو وزارت ددغه لوړرتبه کار کوونکي له خولي چي نوم یې نه دي ښودل شوي لیکلي چي دغه وزارت څوموده دمخه ځپلو هوایي کمپنیو ته دافغانستان دفضا نه دګټي ته اخیستلو لاربښودنه کړي وه خوداپروستان کمپني دزیاتي ګټي دکولو په نیت داخبره له پامه غورځولي وه . (٤)مخ

پاکستان اتحادته ددعوت اوجهاد پوهنتون دتړلو تصمیم ابلاغ کړ

پیښور - دزمري ۲۳

دپاکستان حکومتي مقاماتو داتحاد اسلامي دګوند مسؤلینو ته خبر ورکړي چي ددعوت اوجهاد پوهنتون وتړي.

پاکستاني خبري منابعو ویلي چي دپاکستان د سرحدي ایالت دکورنیو چارو ځانګړي دوه اوني مخکي دافغان کمشنري په واسطه داتحاد د ګوند مسؤلینو ته په رسمي توګه خبر داري ورکړي ؤ چي دخپل پوهنتون دروازي دي وتړي .

ربوټ زیاتوي که څه هم چي په لیك کي دپوهنتون دتړل کیدو وجه نه ده ښودل شوي خو خبري منابع وایي چي په دي وروستیو وختونو کي دلویدیزو هیوادونو په مطبوعاتو کي ددعوت اوجهاد دپوهنتون سره دیو شمیرهغو اسلامي شخصیتونو داړیکو په برخه کي خبري شوي وي چي دلویدیځ له خوا په تروریزم تورن دي .

رمزي یوسف ،دفلیپن دمسلمانانو مشر ابوسیاف اوځیني دجنګیالیو پوښ رشامل، شامل دي ، داتحاد دګوند منابع وایي چي ددي ګوند مشر سیاف دپاکستان (٤)مخ

میجرمست گل یکي از قوماندانان کشمیر:

درکشمیر هیچ یك ازتنظیم هاي مجاهدین افغانستان حضور ندارند

پشاور ۲۳ اسد

میجر مست گل فرمانده مجاهدین کشمیر میگوید درکشمیر اگر افغانهایی به اراده وتصمیم خودشان مشغول جهاد باشند ولي بطور تنظیمي هیچ یك از تنظیم هاي جهادي افغانستان در آنجا حضور ومداخلت ندارند.

میجر مست گل درصحبت اختصاصي که اخیراً با خبرنگاران روز نامه جنگ داشته گفته است که مجاهدین افغانستان باید کشمیر را تنها نگذارند ویا آن کمك نمایند.

میجر مست گل میگوید هندوها درکشمیر به ظلم وتجاوز به نوامیس مسلمانان مبادرت میورزند ومساجد ومدارس را خراب مي نمایند ولازم دارد که مردم پاکستان ومرد، جهان در پهلوي مردم کشمیر علیه ظلم وناروایی رژیم خونخوار هند مبارزه نمایند. ص(٤)

بنام خداوندیکه بي اندازه مهربان ونهایت بارحم است

سرمقاله

جشنواره آزادی پاکستان مبارك باد !

«تحریك پاکستان » ومسئولیت خطیرزمام داران پاکستان دربرابرجهاد افغانستان

دیروز ۱٤ اگست برابربا ۲٤ اسد جشنواره یوم تاسیس کشور پاکستان بود واین روزیست که آمال وآرزوي توده هاي مسلمان نیم قاره که درعرصه تقریباً دوقرن زیرچرخ استبداد واستعمار انگریز سرکوب میشد واردمیدان میشود و مزرعه «سبز» «تحریك پاکستان» که درواقع یکي ازتحریك هاوجنبش هاي ملیوني وتاریخي مسلمانان براي احیاي ارزشهاي اسلامي است، ثمره وبارمي آورد.

هرسال ، هرجشنواره ،هرعید، وهرمیلاد وهر تقریب درجهانبیني اسلامي زمینه وواسطه اي است براي « آزمون » وبهانه اي براي «پیمایش » عملکردها. بااین وصف، درجشنواره کشور پاکستان بیادآن اهداف آن آرزو ها وآن نعره هاي توفندوطوفاني وبیاد آن قرباني ها ومجاهدتهاي مي افتیم که بانیان این کشور میمون وخداداد،براي تحقق آن سعي وایثارنموده وخونهاي پاك شانرا به پیشگاه عقیده وایدهٔ اسلامي ، نذرانه وقرباني نموده اند .

درروزجشن پاکستان، مردم پاکستان میزان حرکت وپیشرفتي راکه از زمان اعلام واعلاي آزادي پاکستان درجهت توسعه وتحقق اهداف وآرمان تحریك انجام شده ارزیابي مینمایند وگزارش عملکرد زمام داران این کشور را استماع مینمایندو ازموانع ومشکلات ایکه درسرراه این اهداف وجود دارد بطوروضوح اطلاع حاصل مینمایند . اگر گزارش فراهم شده برابر به اهداف وتوقعات اولیه تحریك بود ومیتوانست قناعت مردم رافراهم نماید، دیگرزهي سعادت ، براي زمام داراني که این جشنواره هارا میزباني ورهبري مینمایند . اگر خداي نخواسته ، جشنواره دراقناع مردم کوتاهي کندوبین اهداف وعملکرد ها زاویه ایجاد شود واضح است که زمام داران زیرسوال میروند وتقصیر وکوتاهي خودرا درانجام فرایض ،ثبت جریده تاریخ مینمایند .

یادتحریك پاکستان وبرگزاري جشن آزادي پاکستان ،مسئولیت خطیرمردم پاکستان را دربرابر جهاداسلامي افغانستان نیز یادهاني نموده وکارکردگي رهبران این کشور درتحقیق این امر رانیزموردنقد وبررسي قرارمیدهد .

تردیدي نیست که جهاد اسلامي مردم افغانستان برضداستعمار انگلیس ، عرصه سازنام جنبش هاي آزادیخواهي واسلامي جهان بود وبه گواهي تاریخ دستاوردهاي این جهاد دربیداري مردم نیم قاره وبخصوص درتجدید حیات اجتماعي وسیاسي مسلمانان وازهمه بزرگتردرویش تحریك اسلامي پاکستان نقش بارزوانکارنا پذیرداشته وعلایق مردمان این دوخطه راعمیق ولایتناهي ساخت .

استقبال مردم پاکستان دردوران جهاد بااشغالگران کمونیزم که اثرات آن تاکنون نیزپایان نگرفته ، مثال زنده درقسمت هماهنگي اجتماعي وعقیدتي مردمان متدین پاکستان وافغانستان است واین حقیقتي است که دولتمردان کشور برادرپاکستان باید همیش مقیاس آنرا درنظرداشته باشند ودرهرپالیسي ودرهرعمل شان درقبال افغانستان وجهاد افغانستان مقتضاي آنرا نشاندهي نمایند.

سخن روز

دبحران دحل آرزو

محمد نذير "بشارت"

زموږيه هيوادچي کومه وضعه واکمنه ده، اوزموږملت چي له کوموازموينيتونوسره مخامخ دي، هغه دبحران په « لفظ » کي نشي بيانيداي.

دبحران کلمه په هيڅ توگه هغه ژرووونکي حالت چي په افغانستان کي روان دي نشي افاده کولاي ، هغه حالت چي شبيه په شبيه پکي ديوه هيواد اوقوم دهستيواوارزښونوقتل عام کيږي، لحظه په لحظه پکي دانسانانو دوينودتويولواوعزتونو دلوټولو دوحشتناکو منظرونو فاجعي تکراريږي . ورځ په ورځ پکي داخلاقو،شرافت اوترحم مفاهيم دبيخي بي معناتوب اوبي مفهومي خواته نژدي کيږي .

دروغ ، رشوت، دوکه، لوټماري ، بي رحمي ،تشدد، مزدورتوب اوله هري تاروا اوناپاکي لاري دپيسو،قدرت ، مقام اووجاهت ترلاسه کول دبري اونيکمرغي معيار گرځيدلي .

د " اسلام " «جهاد» ، « اسلامي انقلاب»، «وطن » اوه ملت » د درد اوخدمت خبري دسادگي ، عقب ماندگي اودزماني له موج اوروند نه دبيرته توب نښه گڼله کيږي . « استقلاليت» او«اصالت » دناکامو عناصرومشخصه بلله کيږي ، «محروميت » او « پرنسيپ پالنه » بدچانسي، پيغور اودزماني له منطق سره ، ناآشناتوب شميرل کيږي داسي معلوميږي چي په «جهاد» اودکمونيزم او روسيي پرخلاف دجگړي اومقاومت په ريکارډ «ويار» خپل مفهوم له لاسه ورکوي .

لنډه داچي مصيبت يواځي دانه دي چي امنيت نشته ، حکومت نه لرو، جگړي اوبدنظمي دي ، بلکي ترټولو خوفناکه فاجعه داده چي هيواد مو په خاموش دول دافتراق اوبيلتون پالني داوريه لمبوکي دتوټه کيدو سلگي وهي، په هيواد کي مود" اقدارو" او«معنويتونو» ديوالونه يويه بل پسي نړيږي، او دهرباخبره ،درمندداو باضميره افغان سترگوته دهغه قوم ديوه ويروونکي سقوط صحنه دروي چي ټول « هست وبود » ئي ايمان ، شهامت، «ويار» اوکرکټرو.

په همدي وجه ده چي موږ وايو چي زموږ دگران هيواد وضعه ترهغه ډيره خطرناکه ده ، چي په رسمي محفلونو، اوسياسي اوديپلوماتيکي چاپيريالونو کي پري خبري کيږي ، زموږ «مصيبت» ترهغه ډير دروندداوسپيڅلي دي چي دحل دلارولپاره وي اميدونه کله پايه محمودمستيري ، پاسردارآصف علي پوري وتړل شي اويادي دغوټو دپرانستودهيلوسترگي يوبل بهرني لوري ته ورو اوړي .

زموږلمبه ترډيره ژوره اوخطرناکه ده چي دپاي ته رسولو بيرغ دي خوږ بيچاره طالبان» پورته کري اويادي سردارولي له « روم» نه دکومي «معجزي» دهنر مظاهره وکړي .

همداراز زموږ دهيواد درواني غمونکي اوفاجعه زيروونکي وضعي په وړاندي دهرباايمانه ، باضميره اوباخبره افغان مسئوليت تردي ډيردروند دي چي په وچه« اعتراض » دي اداشي ، يادي په دي خلاص شي چي دفاجعي اوبحران عوامل" په گوته کړي، اويا په دي کي خلاصه شي چي له حاکموجريانونو نه مجرد برئت اعلان کړي .

ددي وضعي په وړاندي دهرباايمانه اوويښ ضميره افغان مسئوليت دادي چي قرباني ته ملاوتړي ، دجهاد عزم وکړي اوله تباهي ،سقوط ، اوخوفناک مغلوبيت نه ديوه فاتح خومظلوم ملت دژغورني په يوه عظيم الشان «مقاومت » او«مبارزه » لاس پوري کړي ،داسي چي په ولس کي پوشعور، پوشور اوحرکت راولاړکړي .

ولس بيدارکړي ، داعتماد په نفس اوغرور تاريخ ئي وريه يادکړي که داکاريه شور اوځوږ پيل شي اويادرده عناصر په جديت فعاليت وکړي، که څه هم له يوه سازماني اوتشکيلاتي نظم نه برخمن نه وي، خوديرژر ديوه نوي ملي حرکت دايجاد اوديوه «فلاحي» اوه نجاتي » انقلاب دکيدومقدمه کيداي شي .

په دي جريان کي به خامخايومسلمان، زړه سواند اوهوښيار قيادت تيارزکوي اود«مصنوعي» ، «پلاستيکي » اوقابضوه ليډرشيپونو» ستوري به ويلي کيږي ،ولس به دمايوسيو دبوگنوونکو تروږميو زړه څيروي ، بيرته به زموږ ملت ديوه بانشاطه ، باقيادته اواميدوار قوم په توگه ژوندکوي . ان شاء الله حزب اسلامي به ديوه فداکارځواک په توگه دبيداري اوژغورني له داسي مبارک حرکت سره گام په گام روان وي .

دطالبانو دوياند دمرکي په رڼاکي :

داحمدشاه مسعود رژيم دداکتر نجيب په پرتله

مبصر

دطالبانوغورځنگ په واسطه په قندهار کي دالبانيا دهوايي کرښي دايلوشن ۷٦ الوتکي په رابنکته کيدواوپه هغي الوتکي کي دکلاشينکوفونو دري ټيم ميلبونه مرميواونوروونظامي ... موجوديت اوپه لمړي ورځوکي دمسعوددائتلافي اداري په تپه دالوتکي څخه منکريدل اوبيا وروسته په هغي اقرار کول، دافغانستان دسياسي اونظامي وضعه کي څه خاص انکشافات رامنځته کړي، دطالبانو دغورزنگ نطاقانو هريو ملاخيرالله او ملاعبدالمنان نيازي داپه داگه کړي اوفتوايي صادرکړه چي په کابل کي دمسعود - رباني رژيم دپخوانيو کمونستو رژيمونو يعني دنورمحمد تره کي، حفيظ الله امين ، ببرك کارمل او داکترنجيب تداوم دي اوپه هيڅ وجه دهغه څخه توپيرنلري . او دخپلي دغي ادعا دثبوت له پاره ئي دالبانيا دهوايي کرښي روسي الوتکه دهغي داوه کسانوپرسونل سره يوځاي ۳۰ ټنه نظامي موادو په موجوديت کي بين المللي خبرنگارانوته ترمخ کـــره . ددي ترڅنگ دطالبانو دغورځنگ يومشرملارباني اعلان وکړچي هيڅکله به الوتکه اوپه کي بارنظامي مواد دلاسه ورنکړي اوداچي دعمليې په هکله ئي تصميم نيول شوي چي هغه به په يوه اسلامي محکمه کي محاکمه کيږي اودهغي عمده علت ئي داپه گوته کړي چي روسان دنجيب دررژيم دسقوط څخه وروسته هم دمسعود - رباني دررژيم ملاتړته لکه دپخوانيوکمونستورژيمونوپه څيردوام ورکوي، اوپه دي کارکي يواځي روس نه بلکه هندوانوچي دجهاد په دوران کي نه يواځي دافغان ولس دحقه حقوقو مخالفت کړي بلکه دکمونستورژيمونوله پاره ئي په ميليونوميليونو انساني ضد مينونه تهيه کړي چي همدااوس هم په هره ساعت کي دري کسه هيوادوال دهمدغه مينونوپه واسطه قرباني کيږي،ملگرتيالري .

دطالبانو دغورزنگ دغه منطق بالکل په ځاي ښکاري اوهغوي ددي حق لري چي هم طياره ضبط کړي اوهم ئي پيلوتان اسلامي محکمي ته راکاږي . دهغوي دااوعاهم پرځاي ده چي دمسعود اداره دکمونستي رژيمونوتداوم دي ځکه چي روسان غواړي دااداره دافغان ولس څخه دغچ اخستلوپه خاطر دافغان ولس دپوره ختمولوپوري په اقتدارکي وساتي، روسانواوهندوانو دکابل دادارې سره داتعاون اوپسنه په اني اوفوري توگه نه ده پيل کړي بلکه هغوي ددي کارله پاره اوږده اوطويل الميعاد پلانونه درلودل .په همدي خاطرئي دخپلوپوځونودبيرته ايستلوسره هم دځه وخت له پاره دنجيب درژيم دبقا په خاطربيدريغه کومکونوته دوام ورکړ، لکه چي يومؤلف په خپل کتاب کي ليکلي چي دنجيب درژيم داستحکام په خاطرئه يواځي داچي روسي ځواکونو په زرگونو ټانکونه ، اوتوري درني اوسپکي وسلي لوټا ، اوراگان اوسکډ ميزايلو په شمول ترشاپريښودي بلکه هره ورځ به ئي د ۱۰ څخه ۸۰ پوري پروازونه کول ترڅو خپله نوي وسله چي لاتراوسه پوري په نړي کي نه وه استعمال شوي، دافغان ولس دله منځه وړلو په خاطر خپل نازدانه جاسوس اوقصاب نجيب په اختيارکي ورکړي ، دروسانو هدف بي دريغه تعاون څخه داوچي هغوي نه شوکولاي خپله ماتي په افغانستان کي ومني ددي ترڅنگ روسانودانه شوه ځملولاي، چي په زروئو خادستانو اودافغان ولس قاتلانوته په خپله خاوره کي استوگن ځاي برابرکري. همدارازروسانوداتحمل هم نه درلودچي په افغانستان کي ديوه قوي اسلامي حکومت په موجوديت کي دافغان ولس د وژلواوهغوي دملي شتمنيودله منځه وړلو له پاره دجنگ تاوان اوغرامت ومني، ددي ترڅنگ امريکاهم دروسانوسره يوځاي په افغانستان کي ديوه قوي مرکزي اسلامي حکومت دجوړيدت څخه ويره درلوده، لکه چي يومؤلف په خپلي سروي کي ليکي چي :« امريکاتپانوپه افغانستان کي دپښت پالومسلمانانو حکومت تشوزغملاي اواندېښنه ئي درلوده چي په افغانستان ،پاکستان اوايران کي دپښت پالومسلمانانوترمنځ دوحدت نظريه دخليج دهيوادو دمسلمانانو نظر هم ځانته جذب اوپه دي ترتيب بـــــه دامريکا دنفتوگټوته خطرمتوجه کري هغوي په دي انديښنه کـــي هم ووچي پښت پاله مسلمانانو حکومت به په افغانستان کي دبشرحقوق اوديموکراسي تـــه هم خطر متوجه کري اوهغه ازادي چي امريکاتپان ئي ارزولري منځه به راشي . په دي خاطر امريکاتپانوهڅه کوله چي دخپلي خوښي حکومت په افغانستان کـي حاکم کري اوپيادي موفقيت نه وروسته په ايران کي هم بدلون ته ځان اماده کري » .

دروس اوامريکا دنظرهمدغه يووالي وه چي مجاهدين ونه توانيدل دنجيب دررژيم دسقوط سره سم دولس دخوښي يوحکومت جورکري . بلکه برعکس روس اوامريکاپه دي موفق شول چي دمجاهدينودواقعي اسلامي حکومت پرځاي په داسي يوي ائتلافي اداري توافق وکري چي په هغي کي څيري تبديلي شي خونظام کي کوم تغيررانشي . دپلي خوانه هغه زرگونه خاديستان چي دولس په ويشوئي لاسونه سره وو دهغوي له پاره په افغانستان کي دپاته کيدو اوپه قدرت کي دځاي په ځاي کيدو ځاي پيداشي . په همدي خاطر ئي احمدشاه مسعود د۱۹۸۱ کال سالنگ اوپنجشيرکي داوربند دترونوسره سم د K.G.B دخپاره کړل شوو سندونو په مطابق مسکوته ددري مياشتني کورس له پاره واستاوه اودهمغي ورځي راپدبخوادمسعود دقواو دعملياتواهداف په شمال کي دحزب اسلامي دقوتونو ختمول اوکابل ته دروسي کاروانود مصئون رسيدل و، بناغلي مسعود نه يواځي په شمال کي دحزب اسلامي دختمولو هڅي پيل کري بلکه په جمعيت پوري مربوط تکړه اومجاهدقوماندانان ئي دحزب اسلامي اوجمعيت اسلامي ترمنځ داختلاف دخليج دپراخيدو په منظور په يوه نوم اپيل نوم وثيقه تيرکړل اوپه دي ترتيب ئي هغه وکړه چي شمال دخپل ځان له پاره دتاخت وتازځاي وگرځوي حرلکه څنگه چي روسانوتوقع درلوده هغسي ونه شول . امادددي ترڅنگ مسعود په دي موفق شوچي دروسي اوهندي استعماردپوي مهري په توگه په افغانستان کي ديوه اسلامي حکومت دجوړيدت نه مخنيوي وکري .اودهغي په اصطلاح اسلامي بنيادگرائي توهين اوتحقير کري لکه چي په خپل يوه ليك کي چي دپاکستان دصدراعظمي محترمي بي نظيربوټوپه نوم ئي دپاکستان په پارلماني انتخاباتوکي دجماعت اسلامي دماتي څخه وروسته دهغه دموفقيت دمبارکي لــــه پــاره رالستولي و په داگه کري وه چي لکه څنگه چي په پاکستان کي بنيادگرائي دماتي سره مخ شوه همداسي به په افغانستان کي هم بنښت پالي ولي له ماتي سره مخ کيږي ، مسعود په داگه کري وه چي موږيه هيوادکي دديموکراسي لـــه پاره کارکوو ،دمسعود ددي خبرو اودنجيب دخبروترمنځ هيڅ توپير نه و، نجيب هم په خپلواخري ورځوکي دمترقي ديموکراسي غبرپورته کري و اوداسلامي پښت پالي څخه ئي بد راتلل اومسعودهم په هماغه تگ لاره روان شوي .

نه يواځي داپلکه دنجيب دحکومت ټول سيستم دمسعودپه لاسوکي پريووت اودنجيب ټول جنرالان دپخواپه څيرداحمدشاه مسعود دپاندجنرالان وگرځيدل ددي ترڅنگ مسعود ته چي کوم مهمه دنده ورسپارل شوي وه هغه دحزب اسلامي افغانستان سره دجنگ دوام اودحزب اسلامي له منځه ورل و. هغه دغه وظيفه تريوره حده پوري سرته ورسوله اودحزب اسلامي ځواکونوچي د۱۳۷۱ کال دثوريه پنځمه ئي دکابل دبنارځيني برخي په پرامنه توگه ترلاسه کري وي اودکابل ښاريانودحزب اسلامي شته بيرغونه په لاس کي نيولي و او دسولي اوامن له پاره ئي ماشونه کول دهمدي روسي مشاورينو ، کمونستوجنرالانواوخادستانوپه تعاون دکابل ښار داوريه لمبوکي راډوب کړ اودحزب اسلامي ځواکونه ددغه ښاريانودوينو دتوئيدو څخه دمخنيوي په

دريم مخ

دافغانستان دبحران داوږديدلو عوامل

دغلجي ليکنه : دريمه برخه

دبحران ددوام بهرني عوامل :

ستر بهرني عامل هغه تلاش دي چي يو شمير بهرني هيوادونه يي زموږ په هيواد کښي دخپلو گټو دساتلو لپاره کوي له دي امله چي د بهرنيو هيوادونو گټي سره توافق اوتطابق نه لري" هغه پاليسي چي د دغو مختلفو گټو د ساتلو لپاره دمختلفو هيوادونو له خوا وضع کيږي ،منطقاً سره متناقضي اومتضادي دي .

دبهرنيو هيوادونو له خوا دمتضادو او متناقضو پاليسيو تعقيب او تطبيق دمتضادو گټو په تصادم منتج کيږي . او دغه تصادم زموږ دهيواد په سياسي او پوځي دگرکښي دځينو هغو مشرانو په وجود کښي تبلور اوتجسم مومي چي همدا اوس اوس سره لاس اوگريوان دي .

دافغانستان دچارو ډيرمبصرين په دي عقيده دي چي دافغانستان روانه جگړه که څه هم ظاهر کي دافغانانو ترمنځ ده خو په حقيقت کي هغه دبهرنيو هيوادونو دمنافعو ترمنځ جگړه ده .

دوی داسي استدلال کوي چي دافغانانو دخپل منځي جگړولپاره اساساً هيڅ سبب نه دي موجود . دجگړه مارو مهمو ډلو ترمنځ نه کوم اصولي ايدپالوژيکي اختلاف شته او نه کوم بل داسي سياسي عامل موجود دي چي حتماً دي ددوی ترمنځ په جگړومنتج شي .

تقريباً ټولي جگړه ماري ډلي داصلي اوسوچه اسلام د پياده کولو دارمان ادعا کوي . هره ډله وايي چي فقط د دي لپاره جنگيږي چي په اسلامي اساساتو متکي يو داسي نظام رامنځ ته کړي چي هغه دافغانستان دټولو مسلمانانو هيله او آرزو ده ،په دي صورت کښي نو بيا د دغو ډلو تر منځ دجگړوسوال نه پيدا کيږي ، ځکه چي دوی په اصولو کښي سره يودي اودفروعو اختلاف ډيرو ساده خبرو له لاري هم حل کيدی شي

له همدی امله دافغانستان دچارو مبصرين وايي چي دافغانستان روانه جگړه په دغه هيواد کـــښي دبهرنيو قوتونو دگټو دتصادم نتيجه ده . دغه مبصرين معتقد دي چي هر ذيعلاقه بهرني هيواد په افغانستان کښي دخپلو گټو دساتلو لپاره يو گروپ ايجاد کړی او هغه دخپلو اهدافو دترلاسه کولو لپاره د يوی وسيلي په توگه استعمالوی،

دغه گروپونه دافغانانو په جامعه کښي هريودخپل ولی نعمت گټي تمثيلوی او زموږ په هيوادکښي دبهرنيو هيوادونودلاس وهنی لپاره لاره برابروی ، او بالوسيله زموږ روان بحران لاپسي اوږدوی له همدی امله په بحران ترهغه دوام لری ،ترڅو داسي ظروف اوشرايط رامنځ ته نشي چي دبهرنيو قوتونو دغرض لاسونه چي افغانستان ته يي دخپلو ناروا گټو دساتلو لپاره راغزولی قطع نشی .

دمخه تردی چي بحث ته ادامه ورکړل شي ، دافغانستان دچارو دمبصرينودوينا په باب چي په پورتنيو کرښوکي وړاندي استناد وشو ، يووضاحت لازم دی ، په دی معنی چي ددغومبصرينو هدف دانه دی چي گويا دافغانستان په بحران کښي ټولی شاملي ډلي دبهرنيو قواووتخليق دی .

دبحران اوجگړی ددوام لپاره کافی ده چي يوه ډله يادوه ډلي دبهرنيو قوتونو دلاس آله شی ، او په خپلو کړو وړوکی فقط دخپلو بهرنيو بادارانو ددساتيرو تعميل اوتطبيق ته پام وکړی ،کيدی شی چي دغه ډلي په افغانستان کی دجگړی دپای ته رسولو لپاره له هرهغه پلان او پيشنهاد سره چي د دوی د بادارانو دمنافعو دتأمين تضمين نه کوی ، مخالفت وکړی ،اوبالوسيله دجگړی اوبحران د دوام سبب شی

اوس بحث بيرته له سره نيسو ، په دی ترتيب چي زموږ د روان بحران ددوام دوهم خارجي عامل څيرو دبحران ددوام بل خارجي عامل په افغانستان کښي ديو اسلامي نظام له تشکيل نه دلويديځو استعماري قوتونو اودپخوانی شوروی اتحاد دميراث خوارانو ويره ده غربي استعماري قوتونه داسلام دښمني ديوی عمومي اوپراخي ستراتيژی له مخي په افغانستان کښي ديو سوچه اسلامي نظام له منځ ته راتگ سره مخالف کوی ، اوپه هيڅ قيمت دېته حاضرنه دی چي په افغانستان کښي دحکمتيار په شان مشرانو ترقيادت لاندي پر حکومت ومني ،ځکه دوی له دی ويره لری چي ددغه شان په اصطلاح بنياد گرامشرانو، ترمشرتابه لاندی يواسلامي حکومت به په ټوله اسلامي نړی مخصوصاً په سيمه اومنځنی ختيځ کښي اسلامي غورځنگونه چي دوی يي بنياد گرا غورځنگونه بولي تقويه کړی ، او په اسلامي نړی مخصوصاً دمنځنی ختيځ تيل خيزه او زرخيزه خاوره کښي به دغربي امپرياليزم په وړاندي ستونزی پيداکړی.

غربي امپرياليزم په افغانستان کښي ديوسوچه اسلامي نظام له رامنځ ته کيدو نه خپله ويره ،او له هغه نه دمخنيوی په پاره کی خپله اراده د ۱۹۹۲ کال په برکښو هغه وخت چي لا دنجيب حکومت نسکور ... نه و، ديو امريکايي سناتور په خوله په پوره صراحت څرگندکړ ،دغه سناتورچي هند ته له سفر نه وروسته د پاکستان دليدلولپاره اسلام آباد ته ورسيد په هوايي ډگر کښي يي له خبريالانو سره په خبروکښي په ډاگه پيبيلي توگه وويل چي

" افغانستان دمنځنی آسيا ، ايران اومنځنی ختيځ ، اوپاکستان ترمنځ دوصل يوه حلقه ده ،که په دغه هيواد کښي يوبنياد گرا اسلامي رژيم رامنځ ته شی ، دغه ټوله سيمه به نا آرامه کړی اوبنياد گرايي غورځنگونه به تقويه کړی . "

امريکايي سناتور زيانه کړه چي :" امريکا اولويديځ متحدين يي هيڅکله نشی کولی چي په افغانستان کښي ديوبنيادگرا اسلامي نظام دتشکيل اجازه ورکړی "

له همدی امله لويديځ امپرياليزم دنجيب دراتسکوريدو په وخت کښي له خپل ټول نفوذ نه کارواخيست او کابل کښي يي قدرت داسي يو متنازع فيه رژيم ته وسپاره چي دنجيب له نسکوريدو د راووروسته ټولو جگړو ، ويني توئيدو ، تباهيو اوورانيو يا په بل عبارت د روان بحران درامنځ ته کيدو يواځيني عامل بلل کيږی ، له نجيب نه وروسته رژيم نه اسلامي و او نه کمونستي ، نه مرو او نه ماهي ،سريي دمار و ، ليکن لکی يي دماهي ،يعني مارماهي و، په راس کی يي دمجاهدينو يومشرو ،ليکن قاعده يي له کمونستانو جوړه وه .

رژيم ځان اسلامي باله او ادعايي کوله چي دمجاهدينو اکثريت تشکيلوی ،خو خلکو ځکه اسلامي نه باله چي کمونستان پکښي وو، دمجاهدينو داکثريت دتشکيل په باره کښي يي هم ادعا دروغ وه ځکه چي دمجاهدينو داسي تنظيمونه ورته بهرو وچي دافغانستان په جهاد کښي يي عظيمه برخه درلوده او هيڅ حتی دښمنانو نشوا کولی چي په جهاد کښي دهغوی په موثريت اوکفايت اعتراف ونکړی .

دغو تنظيمونوله نجيب نه وروسته حکومت کښي دکمونستانو دموجوديت په باب څه ملاحظات درلودل او له همدی امله حکومت کښي ترهغه وخته پوری گډون نه وو تيارچي ترڅو حکومت "اسلامي صبغه به ونه غوره کړی ، ... امپرياليزم دنفوذ له منځه دکابل د ... مقاماتو دناراضو تنظيمونو د... په باب اودهغوی داعتراضونو د حل کولو لپاره هيڅ ډول اقدام ونکړ وهغوی په اصطلاح بالکل ناديده ونيول شول ، دمجاهدينو ددغو تنظيمونو داعتراضونو په وړاندي دحکومت دبي باکانه ، غاصبانه اوغير مسئولانه دريځ منطقي نتيجه همدغه روان بحران دی چي ملت يي له تباهي سره مخامخ کړی دی .

بحران دحکومت له خوا ددولتي قدرت دغصبولو له امله رامنځ ته شو ،ليکن که لويديځو امپرياليستي دولتونو دکابل له لوری رژيم سره سياسي اوپولي مرسته نه وای کړی .

ښايي چي دومره اوږدشوی نه وای ، يا به حکومت دناراضو تنظيمونو اعتراضونو ته غوږ نيوه او حل کول به يي ، يا به يي پوځی فشار له امله سقوط کاوه ، په هر حالت کښي بحران پای ته رسيده .

اما د لويديځ دمرستی له امله درژيم عمر اوږدشو ،اووروسره ورسره بحران دوام وکړ.

له رژيم سره دلويديځ سياسي او پولي

دريم مخ

چشم دید مدیر جریده پیغام از وضع اسفبار اداره کابل

درسیمنار زنان منعقده کابل ، هیچ یك ازتنظیم ها وانجمن های اسلامی زنان شرکت نورزیده بودند

تذکر :

برادره شهيد « مديرجريده پيغام چندي قبل سفري بکابل داشته که ره آورد اين سفر درشماره ۱۹ اسد به نشررسيده است که باتشکر ازجريده پيغام متن آنرا دراينجا اقتباس مينمائيم .

ازشماچه پنهان چندي قبل بااستفاده ازهواي گواراي «کابل زمين» به همراهي چندتن از دوستان سفري جانب اين شهرنيمه ويران وجنگزده داشتم .

راست گفته اندکه کيفيت وطن وميهن درموجوديت اقارب وخويشان ودوستان است والاصرف سنگ وچوب کشورنمي تواند حق محبت به وطن راايفانمايد. به هر حال ازاينکه بيشتردوستان واقاريم (مع الأسف) درمحيط هجرت بسرمي برند ازکيفيت اصلي زادگاهم چندان مستفيدنبودم .

بنده ازاين سفرکه حدود بيش ازيك ماه رادرآغوش داشت ، ديباچه اي (نقدگونه) صرف من باب «پندوعبرت» وعطف توجه مسئولين امورباخود آورده ام که ان شاء الله درفرصت هاي مناسب نه فراتر اززهره ، اين زاويه ، برگ برگي ازآنرا فراراه تان خواهم گستردکم ماوکرم شما :

مصروفيات وسرگرمي هاي «بزرگان» آنقدربيش ازحدبودکه تاپاي چند تن از«دوستان» و«وطنداران» ! درميان نمي آمد، ملاقات باايشان دشوارچه، که حتي ناممکن مي نمود .

ماهم پي يافتن وجستجوي «بزرگان» وکسب دريافت افتخارملاقات باايشان پاي اين درب وآن درب سرگردان بوديم، که يکي ازاستادان مشفق مرحمت نموده وعده ،ملاقات با يکي از«بزرگان» را برايمان فراهم نموده وخود باموترش ماراپه رسيدن به مقصدهمراهي کرد.

يکباره استادبه راننده دستورداداتاراه هوتل ستاره را درپيش گيرد وبراي ماتذکر شدکه دراين هوتل محفلي برگزارشده ، اول سري به آن زده وبعدجانب مقصدمي رويم ، ما هم باکمال ادب پذيرفته وپاسخ مثبت داديم.

درنزديکي درب هوتل ازموترپائين شده وارد آن شديم، درداخل زنان براي پذيرائي ايستاده بوده هريك باتقديم سلام وجنباندن سرازمابدرقه نموده وماراپه داخل سالون رهنمائي کردند . درسيميناراکثريت مشارکين رازنان تشکيل ميدادند .

دروسط سالون پاي ميزخطابه ،مردسرخ چهره اي به زبان انگليسي سخنراني داشت وخانمي آراسته بازيب وزينت باعشوه خاصي درپهلويش شانه به شانه ايستاده وسخنان اين مرد فرنگي رابه دري ترجمه مي نمود. در اين اثنا خانمي نزد ماآمده وخرش آمديد گفت واز استادتقاضا کردتاروي ستيژکه جزيك مرد باقي همه زنان روي آن جمع شده بودند تشريف ببرد ولي استاد اباورزيده وماراتنها نگذاشت ودرگوشه اي که مانشسته بوديم وي نيز آرام گرفت.

محفلي عجيبي بود، فکرميکردي اين سيميناردرکابل ويران نه، بلکه دريکي ازکشور هاي اروپائي باکيفيت غربي براي افغانان تدوير يافته است . زنان اکثر آرايش کرده باروسري هاي کوچك وجالي مانند وموهاي شکل يافته بادلگرمي پاي سخن مردك فرنگي زانوزده و نشسته بودند ، مسئله ستروپرده وحجاب کاملاً چون معمولة اکثر دفاترکابل (متاسفانه) هيچ مطرح بحث نبود، قوم وملتي که يك عمربراي اعاده حيثيت ملي واسلامي ودفاع از دين وناموس وآبرويش جهاد ومبارزه نموده ودراين راه بيش ازيك ونيم مليون شهيد تقديم نموده وبه هزاران تن بيوه ويتيم ومعيوب وخانه بدوش دارد ... اکنون زيرسايه «دولت اسلامي » زنان ودخترانش چون پارينه سالها درفضاي اختلاط (زن ومرد) دربرابر کافري نشسته وبه چرنديات وياوه سرائي هاي يك مردكافرگوش فراميدهند .يك مردك غربي ناموس افغان را ميآموزاند که درامر توسعه وبازسازي کشورودوشادوش مردان کار کردن. چه راه واسلوبي داشته باشند!

وااسفا! کجا شد غيرت مجاهداني که براي دفاع از نواميس شان تاپاي جان مي رزميدند ونميگذاشتند چشم اجنبي به چادروزن افغان بيافتد!

اين چه بلاومصيبتي قوم افغان رابه بازي گرفته است ! بعدازاين همه مبارزه وجهاد و ناموس داري اينگونه آسان برمجدوعظمت خود پاگذاشتن وبه راه ورسم بيگانگان تسليم شدن! واقعاً جاي شرم است . مجلس آنطورتدوير يافته بودکه هيچ زن مسلمان وباحجابي جرئت اشتراك درآنرانداشته باشد . اين سيميناربراي مدت سه روز ازطرف موسسه ،نسوان اميرمته تولنه) ترتيب يافته بود. وبه نسبت اينکه جائي که مانشسته بوديم درجنب راست ستيژموقعيت داشت وهم فضاي آلوده وملال آورسيمينارباعث شده بود تاازعنوان سيمينار ناواقف مانيم . ولي ازمتن صحبت سخنران دوم که يك زن امريکائي بود وازپشاوروجهت اشتراك دراين محفل خجسته ! قدم رنجه فرموده بود ! دريافتم که سيمينارمذکورتمهيديست براي اشتراك زنان افغاني دراجتماع سراسري زنان دربيکنگ (اگمان اغلب) که درآينده قريب اماه سپتمبرسال جاري عيسوي منعقدخواهد شد. به هرتقدير محفل مختلط وآلوده اين سيميناربه وضاحت مي رساندکه رقابت هاودشمني هاي ذات البيني مجاهدين باعث شده تاديربرخي ازاموري که درنزد داوليای دولت اسلامي » پيش پاافتاده جلوه مي کند (علي الرغم آنکه درواقع اين مسئله خيلي مهم وحياتي است) دشمنان اسلام به ويژه بقاياي رژيم کمونيستي نجيب ازفرصت استفاده نموده، بدبالاتروفراترازديگران بايند . به جرئت گفته مي توانيم که دراين سيميناره‌يچ يك ازتنظيم هاوانجمن هاي اسلامي زنان شرکت نورزيده بودند ، گويا درج . هيچ زن مسلمان سخنراني سراغ نمي گرديدکه اينها مجبورشده انداز يك زن امريکائي(کافر) تقاضا نمايندتاباصحبت عالمانه اش !! زنان افغان راتنويرنمايد .....

درداواسفا! ازاين بيش باراي پاييدن ازماسلب شده بودوبه مشوره هم به شمول استاد محفل راترك گفته سراغ کارمانرا گرفتيم – ولي باتأسف که آنجاهم «بزرگان» به نسبت مصروفيات وسرگرمي ها !! به اهتمام امورمسلمين ورسيدگي به وعده هاي شان نائل نشده ملاقات کماکان عقيم ماند وبه روزديگرموکول شد وبادل هاي افسرده وبيزارملال به راهي که آمده بوديم برگشتيم

شهادت

به جواب نظرخواهي از خوانندگان

خوانندگان عزیز !
شهادت درشماره مورخ (٨) اسد باارائیه دوطرح راجع به حل قضیه افغانستان (طرح حزب اسلامی افغانستان وطرح اداره کابل)ازخوانندگان محترم درآن مورد نظر خواهی نموده بودیم حال که نظریات تعدادی از خوانندگان خویش را دریافت نموده ایم . درحالیکه منتظر دریافت نظریات خوانندگان دیگر خویش دراین رابطه می باشیم . به نشر اولین نظری که به اداره شهادت مواصلت نموده می پردازیم .

اداره

ولن ترضی عنك الیهودو ...

در جواب نظرخواهی تان باید نوشت که ضعف هردوطرح درمسئله ملل متحداست بخاطریکه ملل متحد تا حال درهیچ یك از مقطع دنیا مشکلی را حل نساخته بلکه به وخامت اوضاع افزوده است . به حکم آیت قرآن (ولن ترضی عنك الیهود ...) لهذا سازمان ملل متحد که متشکل از نیروهای یهودی ومسیحی است درمسئله کنونی کشور هیچگاه به نفع اسلام ومسلمین کارنمیکند پس نباید به آن طمع وتوقعی وابسته کرد .
ازجانب دیگر ازماده هشتم طرح مخالفین معلوم میشود که آنها اعتماد بنفس راازدست داده وصادقانه خواهان حل قضیه کشور نیستند لذا تضمین بین المللی را میخواهند .
بادرنظرداشت ملاحظات فوق هردوطرح رامیشوان عملی کرد اما بنظر بنده طرح حزب اسلامی - شرعی معقول وعملی میباشد چراکه طرح مخالفین مراحل طولانی داشته وهم کلمه لویه جرگه ! چندان به ذهنیت عامه خوب جلوه نمیکند .
مشکل اساسی کشور ناسپاسی نعمت آزادي وعصیان عوام از اوامر خداوند (ج) است پس حل معضله کنونی رجوع به پروردگار عالمیان وبجاآوردن دستورات الهی و ارشادات نبوی (ص) است امیداست ، که حق مطلب را اداکرده باشم .

احمد بشیر نذیر . ازنصرت مینه

داحمدشاه مسعود رژیم د ...

خاطر شانګ ته ترجیح ورکړه . روسانو اوهندوانو دانګلیس دجاسوسی دستګاه ترڅنګ تل احمدشاه مسعودپه شاتیولی اودهغه هروارنی پرحزب اسلامی تائید اوتقدیرکړی . نوځکه چی روسانوهغه اهداف چی دنجیب درژیم په واسطه نه شوترلاسه کولای هغه ئی داحمدشاه مسعود له لاری په ډیرښه شان سره ترلاسه کړای شول.په دی اساس دروسانواوهندوانو هڅه اوکوشش دادی چی دمسعود رژیم چی ظاهراً یی استادربانی دسروسپیتو خاوند ښکاری دافغان ولس دپوره نابودی پوری دقدرت په ګدی ټینګ ومستحکم وساتی . چی دی هدف ته درسیدو په خاطرئی لکه دپخوانیوکمونستورژیمونوپه څیرددوی دتعاون له پاره دځمکی اوهوا له لاری پراخه تعاونونه پیل کړی دمختلفوهوایی کرښو الوتکی یی کرایه کړی . آریانا افغان الوتنه یی دخپلو شخصی اوجنګی اهدافوپه خاطر پوره مصروفه ساتلی. هره ورځ په لسوګونوالوتکی دنظامی اولوژستکی موادو دترسیل په خاطر دبګرام اوخواجه رواش د میدانو په لور پروازونه کوی . خوتراوسه پوری څوك نه پوهیدل دغه الوتکی دکوموهیوادوڅخه راځی کله چی یوغربی خبرنګاره بګرام په هوایی ډګرکی پنځه ترانسپورتی الوتکی چی په نظامی موادو باروی دښکته کیدو خبرورکړنوورسره ئی داوویل چی داالوتکی دهرات څخه راغلی اماکتونکی په دی عقیده ووچی هرات ته خوپه خپله دکابل څخه نظامی موادلیږل کیدل امادترکستان اوایران نظامی تعاونولږڅه مبصرین په شك کی اچول . ځکه دروسانوزیات تعاون دترکستان اوابوظبی څخه دهرات له لاری دکابل رژیم ته استول کیده ترڅوبیرونی حلقی دانصوروکړی چی کابل ته نظامی تعاون دافغانستان دغربی ولایت هرات څخه راځی . امادامعلومه نه وه چی هرات داوول نظامی تعاون له کومه کوی .
بواځی نظامی تعاون نه بلکه دافغانیو دچاپ شوو نوټونوډکی طیاری هم چی پخوا دپیښورله لاری کابل ته رسیدی اوپه دی ورځو کی دهرات له لاری کابل ته وړل کیږی .
دهنداوروس د نظامی کومکونو ترڅنګ دهندی تخنیکرانواوتکنشنانوټیمونه هم دبګرام په نظامی هوایی ډګرکی میشته دی چی ددی خبری پوره ثبوت دهغه دوه کسه پیلوټانو سره موجوددی چی څه موده پخوا دهماهنګی دعالی شورا دځواکونوسره یوځای شوی ، هغوی وایی چی دکابل اشغالی اداری څوجنګی الوتکی درلودی خودهندی تخنیکرانوموجودیت هغوی نورهم قدرتمندوګرځول او همدااوس دکابل اداری سره دخپل ولس دځپولو په خاطر دنیم درځن څخه زیاتی الوتکی موجودی دی . البته داخبره اوس پوره ثابتیږی چی دحزب اسلامی دمشرانجنیرحکمتیارپه کورپه چارآسیاب کی بمباری دهمدغه هندی افغانی پیلوټانو په ګډوهڅه ترسره شوه چی په کی دکابل داداری منصوبلیك مشر، دبمباریوپه واسطه دحکمتیارد له منځه وړلو په اوازی پیلوټانوته طلایی مډالونه هم ورکړل .
